# بسم الله الرحمن الرحیم

# رپوټونه وايي چې چین په لوی لاس د کرونا د منشاء په اړه شواهد له منځه وړي

**خبر:**

نوي افشا شوي اسناد ښيي چې بيجېنګ سره له دې چې د تېر کال په ډسمبر کې پوهېده چې کرونا ویروس له انسان نه انسان ته انتقالېږي، خو دا خبره یې ان د روان کال د جنوري په شلمه ومنله. (indepedent.co.uk)

**تبصره:**

نړۍ له کووېډ-۱۹ سره لاس او ګرېوان ده، متخاصم دولتونه له دې وبا ګټه اخلي او خپلې سیاسي موخې مخ ته بیایي. په داسې حال کې چې ډېری هېوادونه ناتوانه شوي، چین یې ستراتېژيکو موخو ته رسېدل چټک کړي دي. په ایغور کې

زموږ د ورونو او خویندو عامووژنه له کوم ځنډ پرته روانه ده. همداراز چین د ویتنام، فیلیپین او مالیزیا د جزیرو غلا او استعمار پیاوړی کوي. دا داسې متکبر او پست استعمارگر دی چې ان خپل خلک موخه گرځوي.

ضمناً په دغه رمضان کې هم مسلمه امت پاشلی او بې نظمه دی. نېکمرغه یې په کورونو کې پټ دي او میلیونونه نور مسلمانان په وحشت، نهیلۍ او بند کې ژوند تېروي. ډېر یې بېځایه شوي، له لوږې سره مخ دي، په نه مړ کېدونکي اور کې اوسېږي او هېڅ ډول امن او خوندیتوب نه لري. له موږ نه ډېر مظلوم امت جوړ شوی. توپیر له دې لوی نه وي!

اسلام بشریت ته یو ډېر غوره تمدن راوړی، پوهه او حقیت پکې ستایل کېږي او جهل او درواغ سپک کار گڼي. قوم‌پالنه او نژادپالنه پکې له منځه وړل شوې او کمزوری او بېوزله دواړه پکې خوندي وو. ډوډۍ، جامې او خوندیتوب یې د هر فرد

حق و. عدالت، امن او تعلیم د ټولو حق ګڼل کېده. بې جوړې اقتصادي سیستم یې درلود؛ طبعي زېرمې یې د کوم ځانګړي شرکت، قوم یا فرد نه، بلکې د ټولو شتمني او د ټولو د ګټې لپاره وې. دغه تمدن د یوه ځانګړي قوم د ګټو لپاره استعمار او غصب نه کاوه، بلکې د مختلفو سیمو خلک یې ازادول، سره یو کول یې او د ټولو خلکو د هوساینې لپاره یې کار کاوه.

ډېر څه دي چې له رمضانه یې باید زده کړو؛ د خپل خالق سبحانه وتعالی لویوالي او مهربانۍ ته وګورئ، د خپل ژوند لنډوالي ته پام وکړئ، تر اوسه مو په ژوند کې څه کړي او وروسته له دې څه کوو. په دغه رمضان کې مو په جوماتونو کې تراویح نه وې، له دې سره په دې اړه هم فکر وکړئ چې ولې مو اسلام پر نړۍ پاچاهي نه کوي او زموږ په عملي ژوند کې نشته.

ولې زموږ خاین حکام له غرب او شرق سره یو شوي چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم د سنتو د بیا پلي کېدو مخه ونیسي؛ په مدینه کې د هغه صلي الله علیه وسلم د لسو کالو د فتحې سنت؛ هغه یوازینی حللاره چې مسلمه امت او ټوله نړۍ ژغوري او یو کوي یې. که په ریښیا له الله سبحانه و تعالی او د هغه له رسول صلي الله علیه وسلم سره مینه کوو، باید خپل مسولیت ادا او د رسول الله صلي اله علیه وسلم سنت را ژوندي کړو؛ زموږ د عقیدې او دین پر اساس خلافت –چې زموږ مهربانه خالق رب العالمین راکړی - بیا تاسیس کړو.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**محمد حمزه**